زه داسې يو څوک وم چې زيات مذي به راځخه تلل، او له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه شرمېدم چې د حکم په اړه يې ترې پوښتنه وکړم، ځکه چې لور يې ماته ناسته وه، نو مقداد بن اسود رضى الله عنه ته مې امر وکړ چې پوښتنه ترې وکړي، هغه وويل: "خپله تناسلي آله دې وينځي او اودس دې کوي

د علي رضي الله عنه څخه روايت دى چې وايي: زه داسې يو څوک وم چې زيات مذي به راځخه تلل، او له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه شرمېدم چې د حکم په اړه يې ترې پوښتنه وکړم، ځکه چې لور يې ماته ناسته وه، نو مقداد بن اسود رضى الله عنه ته مې امر وکړ چې پوښتنه ترې وکړي، هغه وويل: "خپله تناسلي آله دې وينځي او اودس دې کوي». او د بخاري روايت کې دي چې ويې ويل: «اودس وکړه او تناسلي آله دې ومينځه».

[صحيح دى] [متفق عليه دى]

علي بن ابي طالب رضي الله عنه خبر ورکوي چې هغه داسې يو څوک و چې زيات مذي به ترې تلل - مذي يو ډول سپيني نرې سريخناکه اوبه دي چې د شهوت پر مهال او يا له کور والي څخه مخکې له تناسلي آلې څخه راوځي-، او دى پدې نه پوهېده چې د راوتلو پر مهال يې څه وکړي، نو شرمېده چې له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه پوښتنه وکړي؛ ځکه چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم د لور؛ فاطمې خاوند و، نو له مقداد بن الأسود څخه يې وغوښتل چې د حکم په اړه يې له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه پوښتنه وکړي. نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ځواب ورکړ چې: خپله تناسلي آله دې وينځي او بيا دې اودس وکړي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3348